تفنگچی په گولی شهید سو ،او په همدغه ورځ المتو کـل علی الـلـه محمد ظاهرشاه دده زوی دافغانستان پاد شاه سو.
(۸ نومبر ۳۳م چهار شنبه ۱٦عقرب ۱۲ د ماپښین دری بجی)

دترکیی لوی سفیر ممدوح شوکت بیگ په ۱۰ قوس اود المان نـوی وزیر متخار تسمیکی په ۱۲ قوس ۱۲ خپلی اعتماد نامی تقدیم کړی .

عبدالخالق داعلیحضرت محمد نادرشاه قاتل په کابل کی اعـدام سو (۲٦ قوس ۱۲)

سردار محمد هاشم خان ته د پاچا فرمان صادر سو، چی دی صدراعظم دی، او ده خپله کابینه داسی معرفی کړه :سردار شاه محمود خان دحرب وزیر- فیض محمد خان خارجه وزیر- محمدگل خان داخله وزیر -فضل احمد خان عدلیه وزیر- احمد علی خـان دمعارفو وزیر- میرزا محمد خان د تجارت وزیر اود مالیی دوزیر کفیل الله نواز خان دعامو گټـو وز یـر محمد اکبر خان دطب مستقل مدیر- رحیم الله خان دپست او تلگراف او تیلفون مستقل مدیر (قوس ۱۲)

دپترولو دانحصار شرکت په کابل کی تاسیس سو (قوس ۱۲)

محمود طرزی دافغا نستان دصحافت او سیاست پلار په استانبول کـی وفات او ښخ سو (۲۲ نومبر ۳۳ م قوس ۱۲)

## ۱۹۳٤ م ۱۳۱۲ ش ۱۳۵۲ ق

**سر دار محمد قاسم خان په رو ما کی افغانی وزیر مختارسو (حوت۱۲)**

دماموریتو د مدیر یتونو اصو لنامه خپره سوه (۱۱ قوس ۱۲)

ذ شرکت سهامی افغان اودشوروی اتحاد دسو افغان تورك ترمنځ د ۱۵ زروتیو بوری قرار داد لا سلیـك سو (حوت ۱۲)

ښاغلی محمد داؤد دسمت مشرقی عسکری قوماندان اوملکی آمر مقرر سو (حوت ۱۲)

دافغان- ایران سر حدی موافقـه د ترکیی دحکمیت مناو لپـاره امضا سوه (چهار شنبه ۱۷ حوت ۱۲)

عبد العلی مستغنی دملا رمضان هوتك زوی دافغا نستان مشهور شاعـر (٦۰) کلن پـه کابل کی وفات سو (۲۱ حوت ۱۲)

دپښتون شرکت پـه قند هار کـی افتتاح سو (۲۹ حوت ۱۲)

د ملـی شـــورا د دو همـی ور ی د انتخا بـا تو فرمان صادر سو (حوت ۱۲ش ۱٦فرور ی ۳٤ م)

په ۱۳۱۲ ش کال په گرد افغانستان کی (۳۷) مکتبونه وو چـی ٤۵۹۱ شاگردان او ۱٦۵ تنه معلمان ئی درلودل .

د ۱۳۱۲ ش کال مالی عایـدات ۱۰۸ ملیونه افغانی مصارف ۱۲۰ ملیونه کسر ۱۲ ملیونه و.





## ۱۳۱۳ ش
## (۱۹۳٤ م ۱۳۵۳ ق)

د قره قلی انحصار ملی بانك ته وسپارل سو (مارچ ۳٤م حمل۱۳ش)

دبلخ دنوی ښار دودانی کار شرو سو (حمل ۱۳)

فریزر تتلر دانگلیس نوی وزیر مختار خپله اعتماد نامه وړاندی کړه (۲۰ حمل ۱۳ ش)

قاری عبدالله ته دملك الشعراء لقب ور کړ سو (حمل ۱۳)

د سویس دتقلیل سلاح په جرگه کی جنرال محمد عمر خان دحربـی ارکانو رئیس دافغا نستان له خـوا شامل سو (جوزا ۱۳ ش جون ۳٤)

دخارویو (مواشی) دمحصول اصولنامه خپره سوه (۱۵ ثور ۱۳۱۳)

دگمر کـــو نو دمحصول اصـــولنامه خپره سوه (ثور ۱۳)

د امریکا داتازونی دولت ،افغانستان په رسمیت ومانه (۱۱ اگست ۳٤م ۲۹ اسد ۱۳)

**دافغا نستا ن او مجـار ستا ند** مودت معاهده(۲۵ اگست۳٤م ۱سنبله ۱۳ ش)

شهزاده احمد شاه وزیر یـدیء (۲۳ ستمبر ۳٤م ۳۱ سنبله ۱۳ش)

په کابل کی داو لمپیك تولنه جوړه سوه (سنبله ۱۳ ش اگست ۳٤ م)

افغا نستان په مجمع ملل کی داخل سو (۲۵ ستمبر ۳٤م میزان ۱۳)

دافغا نستان خارجه وزیر فیض محمد خان دافغان- ایران سر حداتو تـه نژدی داعلیحضرت رضا شاه پهلوی حضور ته ور غیء (۲۲ میزان ۱۳)

دکابل په پوهنتون کـی دسائنس پوهنځی افتتاح سو (۲۹میزان ۱۳)

جنرال فخر الدین التای د ترکیه دحکمیت مشر دافغان-ایران سرحدی شخړو دحل لپاره په یکشنبه ۱۸عقرب ۱۳ کابل ته را غیء او په ۱قوس۱۳ هرات ته ولاړ .

دقند هار په سنگین کی دنهـر سراج دکیندلو کار بیا شروع سو (قوس ۱۳)

ریوتر له تهرانه په ۲۳ قوس ۱۳یو خبر خپور کیء چی دزور آباد پـه سرحد کی دافغا نستان خلکو پـر ایرانی خاوره حمله کړیده ،افغانی اخبارو داخبر ترتردیدکیء (۲٤قوس ۱۳)

مو لوی محمد بشیر هندی مهاجر او په چمرکندکی دالمجاهد خپروونکی ووژل سو(قوس ۱۳ش دسمبر۳٤م)

سید کمال دسردار محمد عزیز خان قاتل په برلن کی اعدام سو(۲۲جدی ۱۳)

جنرال فخر الد ین التای خپـل سر حدی حکمیت تمام کیء او پـه ۲۸ جدی ۱۳ دشوروی له خوا انقری ته ولاړ.

دهندو ستان دعسکری نما یش دلیدلو لپاره عبد الاحد خان فرقـه مشر او عبد الغفور خان فرقه مشر ډهلی ته ولاړ (۲۸ جدی ۱۳)

دزور آباد پر شخړو دافغا نستان او ایران موافقه امضا سوه (٤دلو ۱۳)



(c) ketabton.com: The Digital Library

صد راعظم سو (۹مئی ٤٦ جوزا۲۵)
دایران سره هوایی موافقه وسوه
(۲٦ میزان ۲۵)
پهملل متحدکی دافغا نستان لومړی
نماینده عبد الحسین خان شامل‌سو
(۱۹ نومبر ٤٦ عقرب ۲۵)
دملل متحد عامی غونډی دافغانستان
ګډون په هغه موسسه کی وما نــه
(۹ نومبر ٤٦ عقرب ۲۵)
عبد الرحیم خان دعامو ګټو وز یــر
دحکومت دمخالفت په تور ونیول‌سو
(۲۹ جنوری ٤٦ جدی ۲۵)
دکابل پوهنتون دطب او حقوقو او
ادبیاتو دفا کو لتو پهشمول جوړسو
(۲۵ ش)

په ۱۳۲۵ کال دغه اصو لنا می خپری سوی .
۱ـ دعایداتو دمالیاتواصو لنا مه
۲ـ د حکومت د اداری چــارو د عمومی تفتیش اصولنامه ۱۰ ثور .
۳ـ دملکی مامورینو دمحاکمی‌اود محکمو دتشکیل اصول ۷ جوزا .

په ۱۳۲۵ کال ټولــه د افغا نستان ساتلی طلاوی دنیویا رك پهفدرا ل بانك‌کی (۹۳۷،۷٦۷) او نسه طــلا په(۷٦۳، ۲۳۵، ٤۳۵) افغا نی‌قیمت وه اوهم (۱۸٦۹٤۵) مســـکو کـــی طلاوی په (۵۱۸۰٦۵۰) گر مه وز ن او (۵۱۲۵٦٤۷۳۵) افغانـــی قیمـــت موجودی وی .

په ۱۳۲۵ کال ټول د قــره قلـــی صادرات ۱،۵۹۸،۲۸۹ پوستکه پــه ٤۲۲، ۱۹۸، ۲۱ ډالروه .

په ۱۳۲۵ کال افغا نستان پــه ۳۲۹ مکتبوکی ۳٤٤، ۹۳ شاګردان او ۲٦۷۷ تنه معلمان درلو دل .

د ۱۳۲۵ ش کال گــرده دولتی عایدات ۳۳۸ ملیونه مصار ف ۳٤٤ مایونه اوکسر ٦ ملیونه‌افغانی وی.

په ۱۳۲۵ کال دافغا نستان ځینی احصائیی :

پو سته‌خانی : ۲۳٦ پیاده رو ٤۲ موټر رو .

محکمی :

۱ تمیز + ۱۰ مرافعــی + ۱٦۱ ابتدائی = گرده ۱۷۲ .

ما لی د وایر : ۷ مستو فیه + ۳ سر بنته داری + ۱٦٦ کنترو لــی اداری = گرده ۱۸٤ .

پښتو ملکی کور سونه : گــرده ٤٤٦، معلمانځی ۲۰۹ـ زده کوونکی ۱۳۳۸۰ .

نشر الصوت : پوبروډ کاستهنګ ناشر الصوت ۱۳ـتر احصائیی لاندی شخصی راډیو گانی ۳٦۲۰ .

دنخی کار خــانــو محصـــو ل : ٦۹۳،۷۲٤، ۱۰امتره ټوکر او۲۸۰۲۱ ټلچی صابون .

د کابل نقلیات: ۳۸۷۵ بایسکله ۸٦۲ تیزرفتار موټرونه، ۱۳۲۱لاری ۷۵۱ گاډی، ټوله دکراچیو او موټر سایکل سره = ٦۸۲۵ .

د کابل حیوانات: ۷٦۷، ۳،۸۸۰

دزراعت دائری : ولایات ۹ + امتحانی قوریه ۲ + سیروم ســـازی ۱ + د څارویوروزنه ۱ + دکرنی‌ازموینښت ځایونه ٤ = ټول ۱۷ .

دکابل ودانی : کورونــه ۹۵۰۰ سرایونه ۱۱۲ـ دکا نونه ٥٤٦۲ ـ حمــامــونــه ۲۷ـ یــخـــــدان ۱۵ داوبو نــلو نــه ۱۵۲ کیلو متره ـ مسجدونه ۲۰۰ .





معادن : دتالقان مالګه۱،۱۳۲،۸٦٤ سیره ـ داندخوی‌مالګه ۱،۲۰۹،٦۷۲ سیره ـ دهرات دغو ر یان ما لـــګه ۸٤٦،۲۹٤ سیره ـ دتاشقرغان مالګه ۱۱۳،۲۸۱ سیره ـ دقندهار مــالګه ۱۲۰،۰۰۰ سره ـ دغو ر بند مالګــه ٤٤۰۰سیره مساوی‌ټوله۳،٤۲٦،۵۱۱ سیره ـ ډبـرین سکاره (۱۷٦۸۸) سیره.

دحکو متواداری: نائب الحکو مگی ۷ اعلی حکام ۳ لوی حاکـمان ۲۲ لومـړی درجه حاکمان ۲۰ دوهــمه درجه ۳۳ـدریمه درجه ۳۸ـخلرمه درجه ٤۱ـ علاقه‌داری ۱٤۲ـ ټوله ۳۰٦ .

قضا: په‌ټول‌افغانستان‌کی ۲٤۷۵ حقـــوقـــی او ۱۸۷۲ جـــزایـــی فیصلی سوی وی .

دکابل نفوس: چی‌دبوری کوپون یــی ا خیستـی دی (۱۰٦،۱۹۱) تــنه .

دخارجی ټو کر واردات :
۰۲۸، ۹٤۸، ۹۱ متره.

دامریکا اوړه: ٤۱۲، ۲٦۵ سیره
خــارجی بوره: ۸۸٤، ۲۷۰ سیره
روغتونونه: ۱۹۲، ۳۷۱ تنورجوع کړیده

دکابل ښار دکانونه:
دډوډی هوټلو نه ۳۵ـ سماوار چی ۱۵۱ ـ کلچه پزی ٤٤ ـ وریجی‌والا ۵۰ ـ کبابی ۳۵ ـ سابه والا ۳۵ پالوده والا ۵۹ ـ میوه والا ۵۳ ـ بقال ٤۰۸ ـډوډی والا ۱۰٤ـ بنیــهٔ گــر ۱٦۵ ـ قنــاد ۱۵۱ ـ عطــار ۱۷۵ـزرګر ۱۷۷ـدرملتو نونه ـ۱۰



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱۳۲۶ ش .
## (۱۹۴۷م ۱۳۶۸ ق)

د افغانستان او شوروی درادیو تلگرافی معاهده ۱۶ مادی په کابل کی امضاء سوه (۱۳ اپریل ۴۷ حمل ۲۶) .

دافغانستان و فد تا شکند ته ورسیدی چی د شوروی مملکته سره سرحدونه و ټاکی (۲۴ اپریل ۴۷م ثور ۲۶).

ځکه چی دهندوستان ویش ومنل سو، نو افغانستان برتانیا اود هند حکومت ته ولیکل، چی دافغانستان له سر حداتو تر اباسینه پوری خلك پښتانه دی او ښایی چی دوی پخپله دافیصله وکړی، چی آزاد پاتیږی، که له افغانستان یاهندیاپاکستانه سره گډیږی (۱۳جون ۴۷ جوزا ۲۶).

برتانیا افغانستان ته جواب ورکی چی د ۱۹۲۱ کال په تړون کی سرحدونه منل سوی دی، نو ځکه هندوستانیا نو ته دقدرت دانتقال په وخت کی باید افغانستان په شمال غربی سرحد کی هیڅ ډول مداخله و نه کړی (۳ جولایی ۴۷ سرطان ۲۶) .

افغانستان دپښتونستان د خلکو دحقوقو مطالبه بیا برتانیا ته وکړه (۱۰ جولایی ۴۷ سرطان ۲۶).

سردار شاه‌محمود خان صدراعظم لندن ته ولاړ (۲۶ جولایی ۴۷ م اسد ۲۶) .

سردار شاه محمود خان نیویارك ته ورسیدیء (۳ ـ اگست ۴۷ م اسد ۲۶) .

ایران په سیستان کی دهلمند د اوبو دلږوالی شکوه وکړه (۱۸ستمبر ۴۷م سنبله ۲۶) .

افغانستان دپښتنو په طرفداری دپاکستان دشاملیدو پر خلاف د ملل متحد غونډه کی رای ورکړه . (۳۰ستمبر ۴۷ میزان ۲۶) .

د افغانستان او سویډن د مؤدت معاهده (۲۲ـ اکتوبر ۴۷م ۲۸ میزان ۲۶).

نجیب‌الله خان دافغانستان نماینده دپښتونستان دخکلو دحقوقو مذاکره د پاکستان د مشرانو سره وکړه (نومبر ۴۷ عقرب ۲۶) .

دصافو او نورستانیانو د جنگ په بندو نه کی دعسکر و مدا خله (۲۹ نومبر قوس ۲۶) .

## ۱۹۴۸ م ۱۳۲۶ ش ۱۳۶۹ ق

عبد الحسین عزیز د افغانستان نماینده په کشمیر کانفرانس کی وغوښته چی دقبایلی سیمو پروضعیت باندی د افغانستان سره مشوره رسمی (۲۲ جنوری ۴۸ دلو ۲۶).

په ۱۳۲۶ کال دغه اصولنا مې خپری سوی .

۱ـ دترافیك اصولنامه ۱۷سنبله.
۲ـ دښاروالیو اصولنامه ۱۰سنبله.
۳ـ دعسکری جزا اصولنامه ۳میزان.
۴ـ دعسکری محاکماتو اصولنامه ۱۳ میزان .





د ۱۳۲۶ ش کال دولتی واردات ۲۸۱ ملیونه او مصارف ۲۸۳ ملیونه کسر دوه ملیونه افغانیو .

په ۱۳۲۶ ش کال افغانستان په ۳۳۸ مکتبو کی ۹۸،۶۳۱ شاگردان او ۲۷۴۷ معلمان لرل .

په دغه کال ټول دقرقلی صادرات ۲،۴۱۶،۲۰۸ پوسته په ۱۶،۲۵۰،۹۹۷ ډالره وه .

دکابل صحی اداری: سناتوریم ۲ دکوچنو روغتون ۱ـ دښځو روغتون ۱ دبندیانو روغتون ۱ گرزنده روغتون ۲ عمومی روغتو نونه ۳ـ گرده ۲۱ شفاخانی :قندهار ۵ـ مزار ۶ هرات ۷ قطغن ۸ مشرقی ۵ میمنه ۳ فراه ۲ بدخشان ۱ = گرده ۷ دکابل ښار ۲۱ مساوی گر ده ۶۷

## ۱۳۲۷ ش
## ۱۹۴۸ م ۱۳۶۹ ق

سردار محمد نعیم خان په انازونی کی دافغانستان لوی سفیر مقررسو: (۱ اپریل ۴۸ حمل ۴۷ حمل ۲۷ )

شاه عبدالله بدخشی د بدخشان د جرم د میر محمد سید خان زوی چی لیکوال او محقق سړی و په کابل کی په ۲۶ حمل ۱۳۲۷ ش وفات سو ( ولادت ئی په جرم بدخشان کی ۱۳۳۰ ق)

محمد یحیی نادم میمنه وال د دیوان خاوند شاعر په میمنه کی ۷۹ کلن وفات سو ( سه شنبه ۷ ثور ۲۷ ) .

سر گیلیس سکوائر په کابل کی افغانی وی .

د بر تانیا سفیر سو ( ۲۳ اپریل ۴۸ ثور ۲۷ ) .

سردار فیض محمد خان په بر تانیا کی د افغانستان لوی سفیر سو (۶ می ۴۸ ثور ۲۷).

دامریکا وزارت مختاری په کابل کی په لوی سفارت بدله سوه او او مړی لوی سفیر ای-پالمیر خپله اعتماد نامه وړاندی کړه ( ۵ جون ۴۸ جوزا ۲۷ ) .

افغانستان په راډیو او مطبوعاتو کی د پښتونستان تحریك شروع کیء او پاکستان خان عبدالغفار خان بندی کیء (۱۶جون ۴۸جوزا ۲۷ )

د افغان او شوروی اتحاد گډ کمسیون د سرحداتو ټاکنه بشپړه کړه او موافقت نامه ئی امضا سوه ( ۲۹ ستمبر ۴۸ سنبله ۲۷ ) .

کسر شپږ ملیونه افغانی و .

د ۱۳۲۷ ش کال دولتی واردت ۳۱۱ ملیونه مصارف ۳۱۷ملیو نه

په ۱۳۲۷ ش کال په ۳۲۵ مکتبو کی ۶۶۰ ، ۹۸ شاگردان او ۲۷۵۸ معلمان وو .

په دغه کال گرده د قرقلی صادرات ۸۶۶ ، ۳۶۵ ، ۱ پوسته په ۲۲،۶۰۵،۷۲۱ ډالره وه.

په دغه کال د مالگی واردات مالیه وزارت ته (۳۵۷، ۴۲۲ ، ۱) اود ډبرینو سکرو ( ۱۹۵ ، ۵۶۱)

abton.com: The Digital Library

پــه تهران کــی دافغا نستان او
پا کستان دخارجه وزیرانو مجـوز
ملا قات دوخت نلرلو پــه سبب و
ځنډ یدیء.
(۱۲ ستمبر ٦۲ سنبله ٤۱)

ایرن غاووکیء چی پرهلمند باندی
دم جوړ ولو له ایرانه اوبه گرزولی
او کنبتونه ئی سوځلی دی. ( ۱۹
اکتوبر ٦۲ میزان ٤۱)

دافغا نستان دجرمنی دفیډرال
جمهوریته سره د (۲۰۰) ملیو نو
مارکو دپور قرار داد امضا کیءچــی
دبرینبنا دفابریکی اودزیم دوچولــو
اودچبنگ داوبو اود صنعتی چارو
لپاره گټه ځنی واخیستله سی.
(۲٤ اکتوبر ٦۲سنبله ٤۱)

دپاکستان خارجه وزیر وویل :
چی دافغانستان اوپاکستان دنمایند
گانو مجوزه لیــدنه داعلیحضــر ت
محمد رضا شاه پهلوی سره معطله
سوه ۱۲ اکتوبر ٦۲ سنبله ٤۱

دافغانستان یوی تجا رتی ډلــی
دایران لهمامورینو سره دافغانستان
دمالونو دوړو راوړو او په خر مشهر
اومشهد کیدگداموانورو مشکلاتو
دهیسته کولو خبری وکړی. (۱۰ــ
۳۰ نومبر ٦۲ قوس ٤۱)

ښاغلی محمد نعیم وزیر خارجه ،
پاکستان دشخړو پهاوږدولو وغانده
(۱٤ دسمبر ٦۲ قوس ٤۱)

د خواجه عبدالله انصاری طبقات
الصو فیه په۷۳۸ مخه کیدعبدالحی
حبیبی دتعلیقاتو سره په کابل کی
چاپ سو (میزان ۱۳٤۱)

## ۱۹٦۳م ۱۳٤۱ ش ۱۳۸۲ ق

جان ستیویس داتــا زونی لــــوی
شخره باندی درئیس جمهورکنیډی
سفیر دافغا نستان او پا کستان پر
سره خبری وکړی. (۱۸ جنوری ٦۳م
دننگرهار پوهنتون دطب دپو هنځی
جدی ٤۱)
سو (۵ فروری ٦۳ دلو ٤۱)
په افتتاح سره په جلال آباد کیجوړ
اتا زونی ټول دمرستی مالونــه
دایران له لاری افغا نستان تــه وا
ستول (۱۲ فروری ٦۳ دلو ٤۱)
داتحاد جما هیر شو روی دمرستی
موافقه نامه دافغا نستان سره (۲۵
فروری ٦۳ دلو ٤۱)

ښا غلی محمد داؤد صدرا عظــم
استعفا وکړه (۱۰ مارچ ٦۳ م ۱۹
حوت ٤۱)

